DAILY
# اراده
داطغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه

سال پنجم شماره ۲۰۶
شماره مسلسل ۸۳۲
پنجشنبه ۳ سنبله ۱۳۸۴ هـ
۲۰ رجب المرجب ۱۴۲۶ هـ ق
25 August, 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

# په لغمان کې د نجونو یو ښوونځي ته اور واچول شو

دلغمان ولایت دالینګار په ولسوالۍ کې دنجونو یو منځنی ښوونځی وړمه شپه ، دنا معلو مو کسانو له خوا وسوزېد .

د لغمان ولایت د ښوونې او روزنې ریس اسیرالدین هوتک د وړې پـه دوهمه نېټه پژواک خبري آژانس ته ویلي چې په دغه اور اچونه کې د ښوونځي اته خونې په پوره توګه سوزېدلې دي ، خو ځاني زیان یې نه دی اړولی .

دنوموړي دمعلو ماتو له مخې دالینګار ولسوالۍ د کندې راجایي په دغه ښوونځي کې نږدې ۴۰۰ نجونو زده کړې کولې .

نوموړي که څه هم په دې تړاو کو مه ځانګړې ډله تورنه نه کړه خو زیاته یې کړه چې دا د هغو خلکو کار دی چې د هېواد د پرمختګ ، ښوونې او روزنې دښمنان دي .

دکندې را جایي اوسېدونکی محمد نسیم چې سوزېدلې خونې یې له نږدې لیدلي ویلي چې د دغه منځني ښوونځي شاوخوا ته هغه کاغذونه هم پراته وو په کومو کې چې د ښوونځي د سوزوونکو له خوا خلکو ته ګواښ شوی وو چې که خپلې لوڼې ښوونځیو ته له ورتګ څخه منع نه کړي نو دې ته ورته بل ګام به هم پورته کړي .

د لغمان والي شامحمود ساپي هم د ښو ونځي د سوزېدو دخبر پخلی وکړ .

د لغمان ولایت د ښوونې او روزنې دریس د معلوماتو له مخې په ټول لغمان کې د ۲ لېسو ، ۲۰ منځنیو او ۳۲ لومړنیو ښوونځیو په ګډون د نجونو ۵۸ ښوونځي دي چې په تولیزه توګه نږدې ۴۸ زره نجونې په کې زده کړې کوي .

# این رنگ پاک نمی شود

مسئولان کمیسیون مشترک تنظیم انتخابات می گویند در انتخابات پارلمانی پیش رو، از رنگ مخصوصی برای نشانه گذاری انگشت رای دهندگان استفاده خواهند کرد.

ریچارد اتوود، مسئول اجرایی این کمیسیون گفت که در انتخابات ماه آینده از "روش های سختگیرانه" ای استفاده خواهد شد تا "شفافیت و سری بودن" انتخابات حفظ شود. ص۴

## سرمقاله

# بیا هم دعلم دښمنانو خپله څیره رسوا کړه

له هغې ورځې څخه چې په هیواد کې دباندنیو معلوم الحاله کړیو او هیوادونو په اوړو رامنځته شوې د ترقي ضد واکمني دهغوی دخپلو ظالمانه اعمالو او دیکتاتورانه او ترقي ضد حرکاتو دکولو له امله له منځه لاړه تر اوسه پورې یې دخپلې له لاسه وتلي واکمنۍ او پخوانیو خوبونو په هیله زمونږ دقانوني او ولسواک نظام په دننه کې په خپله مذبوحانه هلو ځلو سره له هیڅ ډول تخریب او وژلو څخه لاس نیولی نه دی.

دخپلو بادارانو له خوا یې په تکتیکی ډول څرګنده کړه چې مونږ دانتخاباتو په مرکزونو باندې بریدونه نه کوو او زمونږ پوځي او امنیتي مقامونو دهغوی دغې څرګندونې ته هر کلی ووایه او حال دا چې هغوی تر اوسه پورې دهیواد په ټولو سیمو کې چې لاس یې رسیږي له هیڅ ډول تخریب او وژنې څخه سرنه دی غړولي. هغوی له یوې خوا په انتخاباتي حوزو باندې د بریدونو دنه کولو خبره رامنځته کوي او له بلې خوا دخپل تخریبي پروګرام په تطبیق کې دپخوا په څیر روان دي دادی تر خپل اعلان وروسته یې بیا خپله څیره رسوا کړه. دترقي او علم دښمنانو په لغمان کې ښوونځي ته او رواچوو دتورخم ـ جلال آباد او وریښمین تنګي په لویه لاره یې دتیلو دټانکرونو له منځه وړل زمونږ دملي ځواکونو او هیواد پالو اشخاصو او علماوو وژل دا او داسې تخریبي پیښې ددې څرګندوی کوي چې دترقي ضد دښمنانو ددولت او خلکو په وړاندې تر خپل توان پورې دهر ډول بې امنیتی او تخریب درامنځته کیدو لپاره هلې ځلې کوي. ۴مخ

## اسلام آباد د افغان کډوالو دکاروبار

# په بندولو لاس پورې کړ

په پاکستان کې د اسلام آباد ښاروالۍ د افغان کډوالو دکاروبار په بندولو لاس پورې کړی . او د دوی دوکانونه په پېښور مونږ، کراچي کمپنۍ او سبزي منډۍ کې نور د کار اجازه نه ورکول کېږي. د اسلام آباد د ښاروالۍ (سي ډي ای) مسؤول پرویز احمد د کډوالو د کاروبار د بندولو په هکله ویلي چې په لومړي پړاو کې یې د کراچي کمپنۍ، پشاور مونږ او د افغان کډوالو له پېنډغالي سره نږدې سبزي منډو ي او میوه منډوي کې د افغان کډوالو کوچني دکانونه له منځه وړ ي دي ٤مخ

دیروز

امروز

# راضي ها و ناراضي ها از نشانه های انتخاباتی

تعدد نامزدهای راه یابی به پارلمان (ولسی جرګه) و شوراهای ولایتی سبب شده است تا از تصویرهای مختلفی به عنوان سمبول یا نشان انتخاباتی استفاده شود

به عنوان مثال، انگشتر، نعل اسب، درخت، برگ، شیشه آب، گهواره، آیس کریم، کوزه، قلم، کاغذ، کتاب، تصاویر پرندگان و حیوانات از جمله نشانهای انتخاباتی نامزدها است. ص٤

# انفجار اریکین های تیلی در کاپیسا تا حال جان ۱۵ تن را گرفته است

دراین اواخر از اثر انفجار اریکین ها ی تیلی در نواحی مختلف ولایت کاپیسا. ۱۵ تن جان داده و در حدود ۳۰۰ تن جراحت برداشته اند.

محمد وحید معاون شفاخانه ولایتی مرکز کاپیسا ضمن اظهار این مطلب گفت که . اکثریت مصدومین این حوادث را زنان و اطفال تشکیل میدهد و وضع صحي ۵۰ فیصد مجروحین وخیم می باشد ص ۴

استفاده از تیل آلودهٔ بازار عامل این واقعات می باشد نامبرده خاطر نشان ساخت که

# د زابل چارواکي وایي چې شپږ طالبان یې وژلي

د زابل چارواکي وایي چې د زابل ولایت د نوبهار ولسوالۍ د سهاک په کلي کې د ملي اردو او ائتلافي ځواکو په ګډو تصفیوي عملیاتو کې د وړې په لومړۍ شپږ طالبان وژل شوي دي

د زابل دوالي ویاند ګلاب شاه علی خپل په دې اړه وویل چې دا عملیات دوی د ټول ټاکنو د امنیت دتینګښت لپاره پیل کړي دي

نوموړي وویل چې دعملیاتو په ترڅ کې د نوبهار ولسوالۍ د سهاک په کلي کې له وسله والو طالبانو سره مخ شول چې په دغه نښته کې طالبانو ته ځاني زیان وروانېت

هغه زیاته کړه «موږ له طالبانو څخه ۲ کلاشینکوفونه او یوه اندازه مهمات هم نیولي دي »

خو طالبانو په دې اړه تر اوسه پورې څه ندي ویلي

# دو تن به اعدام محکوم شدند

یک محکمه ابتدائیه در کابل دو تن را به اتهام قتل یک شخص به جزای اعدام محکوم نمود ص٤

# قابل توجه کاندیدان شورای ملی

مطبعه مرکز نشرات افغان با داشتن مدرنترین ماشین های چاپ اماده نشر انواع پوستر ها، بروشورها، پا مفلیت ها، عکس ها، ویزت کارت ها وسایر فرمایشات به قیمت نازلتر از بازار است.

آدرس : پروان مینه ، عقب سینمای بهارستان کوچه مسجد حاجی میراحمد خانه نمبر ۹۵ تیلفون مطبعه. ۰۷۹۵۷۳۲۴۴

# ریس تعیین شده به امضای جعلی کرزی، درتوقیف بسر میبرد

یکتن که با اسناد جعلی و امضای رییس جمهور. خود را به حیث رییس جدید ریاست صحت عامه بغلان مقرر نموده و به کارمندان آن ریاست نیز معرفی شده بود. توسط پولیس توقیف شد ص٤

# یکتن ، بعد از قتل برادرش دستگیر شد

یکتن که دوشب قبل سر برادرش را در ولسوالی برکی برک ولایت لوگر بریده بود. توسط پولیس محل گرفتار گردید ص٤

# په غزني کې دموټرسایکل په چلولو پندیز ولګید

چارواکو په غزني کې د وړې له لومړۍ نېټې څخه وروسته د راتلونکو ټاکنو تر پای ته رسېدو پورې هلته د موټرسایکلو پرچلولو دامنیت دښه تامین په خاطر بندیزولګاوه. ٤مخ

# تاسو به دوه رای پانې اچوئ، یوه د ځپل ولسي جرګې داستازي لپاره او یوه د ځپل ولایتي شورا داستازي لپاره

## ځکه دوه ورق رای را په صندوق رای خواسیدا، یو ځل به نماینده ولسی جرګه، او یو ځل هم به نماینده شورای ولایتی تان.





اگر شما نیاز به معلومات بیشتر در باره انتخابات ولسی جرگه و شورای ولایتی دارید، بطور رایگان به شماره ۱۸۰ زنگ بزنید. کارمندان انتخاباتی مرکز معلومات رای دهندگان به سوالات شما همه روزه از شنبه تا پنجشنبه از ساعت ۷ صبح الی ۷ شام پاسخ خواهند داد.

که چېرې تاسو غواړئ چې د ۱۳۸٤ کال د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په هکله لا زیات معلومات تر لاسه کړئ، مهربانی وکړئ د ۱۸۰ شمېرې ته ورېا ټلیفون وکړئ.
د رایې ورکوونکو د معلوماتي مرکز د ټاکنو کارکوونکي به ستاسو پوښتنو ته د شنبې له ورځې څخه د پنجشنبې تر ورځې پورې، د سهار له اوو بجو څخه د ماښام تر اوو بجو پورې ځوابونه ورایي.

زمونږ هېواد، زمونږ راتلونکې، زمونږ رایه
کشور ما، آینده ما، رای ما

متصدی : سباوون

# د بیا رغاونی په لور

دولت برای آسکان دو میلیون نفر، پلان شهری را طرح کرده است وزارت شهرسازی و مسکن، تاکنون در رابطه به پروگرام توسعه شهری برای بیش از دو میلیون نفوس پلانی را طرح کرده که حدود بیست الی سی فیصد عملی شده است.

به گفته اسرارالحق زمری رییس شهر وزارت شهر سازی و مسکن تا اکنون د ر ولسوالی های مختلف ولایات ننگرهار، کندز، جوزجان، بدخشان، غور، هرات، میمنه، مزار و سایر نقاط کشور پلان های را طرح کرده اند.

موصوف خاطر نشان ساخته است که ارقام دقیق درین مورد وجود ندارد اما با توجه به کاهش ضروریات به مواد ساختمانی وخالی بودن بعضی خانه ها در مناطق مختلف کشور، می توان گفت که در زمینه اسکان مردم تا اندازه کار انجام شده است.

این در حالیست که از اثر جنگ های گذشته تعداد زیادی از خانه های مردم تخریب شده و تعداد کثیری افغانها مجبور به ترک وطن گردیده اند، که با بازگشت شان به کشور سرپناه برای زنده گی ندارند.

قرار اظهارات اقای زمری، دولت برای مهاجرین پلان هایی را در ولایات مختلف چون لغمان، جلال آباد، میدان، لوگر، گردیز، کاپیسا، غزنی وغیره روی دست دارند که طی آن برای حدود یک صد هزار نفر خانه ساخته می شود.

به گفته وی آنها برای رفع نیازمندی مردم بی سرپناه در زمین های دولتی بعد از سروی، پلان تفصیلی را تهیه می کنند که عملی شدن آن، مربوط به شاروالی میباشد.

وی اشاره کرد که آنها در جریان کار شان با مشکلاتی روبه رو هستند که نبود کادر مسلکی، معاشات پایین، نبود بعضی امکانات از جمله آنهاست.

در شهر کابل بیش از ده شرکت و در ولایات مختلف بیش از ۱۷ شرکت خصوصی مصروف انجام پروژه های شهرسازی می باشند.

شرکت لیگو گلوبل با ده سال تجربه کاری در ترکیه و عمان از جمله این شرکت ها می باشد.

این شرکت در شهرک پیروزی در ساحه ده سبز کابل بالای دو هزار جریب زمین برای اسکان چهل و هفت هزار نفر، در شهرک مرجان در قصبه کابل در هفتصد جریب زمین برای بیست و دو هزار نفر و در شهرک دشت اسفندی در غزنی دوازده هزار منزل رهایشی اعمار خواهد کرد.

سید همایون سادات رئیس شرکت لیگو گلوبل در زمینه مشکلات سرمایه گذاران این بخش گفت: «در دولت سیستم بیوکراسی به شدت روان است.»

اما مسوولین وزارت شهرسازی و مسکن پروسه شهرسازی را یک پروسه دراز مدت می دانند که نیاز به زمان و کار اداری بیشتر دارد.

زمری گفت: «برای موضوعات شهری دو ماه، سه ماه و شش ماه کم است.»

وی علاوه نموده که آنها تصمیم دارند تا پلان های شهری را در تمام کشور اجرا نمایند.

## تنها طرح پلان ها به درد مردم نمی خورد

## د بنار پراخوالی د بیا جوړولو د یوې برخې په توګه

په کابل بنار کې د دوکانونو زیات والی، لاسي پلورونکو او دبنارونو د ګڼې ګوڼې زیاتوالی، د دوکاندارانو له خوا د بنار په زیاتو برخو کې د پلی لارو بندول د بنار په سرکونو کې د پلیو تلونکو، بایسکلونو او موټرونو حرکت نه یوازې دا چې د بنار نظم خراب کړی دی بلکی د پیښو د رامنځته کیدو زمینه یې هم برابره کړی ده.

کابل بنار ډیر وړوکی او ورځ په ورځ له ګڼې ګوڼې خخه ډکیږي او ترڅو چې بناري اړونده مسوول ارګانونه په خپلو خپلو برخو کې د بنار د پراخوالی او غځولو لپاره اقدام ونه کړي د داسې ستونزې ورځ په ورځ ډیریږي. د کابل بناروالی له خوا وخت د بنار د پراخوالی او غځولو په برخه کې اجراات تر سره کیږي خو دا چې زمونږ خلك سر زوره او له مقرراتو څخه سرغړونکي شوي دي بیرته هغه اجراات یا په خپل حال پاتی شي او یا خود کمی مودې لپاره وي.

د کابل بنار په څلورو لوریو کې د بنار څخه د منډیی د وتلو او د ورځې د بازار د جوړولو پروګرام یو بنه اقدام دی کولای شي چې د بنار ګنډه ګونډه راکمه کړي او د بیا جوړونو یوه برخه یې وبولو.

د بناروالی له خوا دغه اقدام چې د کابل د موټر جوړولو او پرزو پلورلو ۲۱۰۰ دکانونه به د قوای مرکز او اریانا کارتی له سیمې څخه د بګرامیو د نساجی فابریکی ساحی ته ولیږدوي. او دکانداران یې د دکانونه په جوړولو مکلف کړل دا کار که چیرې تطبیق شي او همیشنی شي او په همدې ډول د نورو توکو د پلورلو په باره کې تصمیم ونیول شي د بیا جوړونو په برخه کې یې یو نیك اقدام بللی شو.

خودغه کار په اوسنیو شرایطو کې له ستونزو او مقاومت څخه هم خالی نشو بللای، تر هغه پورې چې د بنار پراخوالی د استوګنی کورونو د پروژو د جوړولو په برخه کې پراخه نشي د استوګنی کورونه ونه لیږدول شي د ډیرو نورو توکو د بازارونو د لیږدولو کار شنډیږي کله چې پروژی جوړې شي سرکونه یې جوړ پاخه او له مرکزي بنار نقطی سره ونښلي د ډیرو تکو لیږول د بازارونو جوړول پخپله رامنځته کیږي د بنار نظم د اړوندو ارګانونو دندی د بازارونو د جوړولو په برخه کې راکمیږي، خلك خپله د خپلو د ګټو د لاسته راوړلو په خاطر اسانه او نږدې لارې لټوي که بیا په هغه وخت کې د عمده او پرچون پلورونکو توکو د دکانونو او مارکیټونو لیږدول رامنځته شي هغه همیشنی کیدای شي او د بنار په پراخوالی کې ګټور تمامیږي.

## د یو تاریخی پل کشف

د بغلان ولایت صنعتی بغلان ته نږدی یو تاریخی پل چې ویل کیږي دوه زره کاله لرغونتوب لري او په هیواد کې د یونان باختری دوران پورې اړه لري کشف شوی دی.

د بغلان ولایت د پوهنتون د لرغون پیژندنی استاد محمد بصیر بدروز چې ددغه پل په کشف او پیژندلو بریالی شوی دی وویل. هغه ساحه چې دغه پل پکې کشف شوی او پیژندل شوی د هاشم خان د قریې په نامه یادیږي چې د پلخمری له بنار څخه ۱۵ کیلو متری لیری د سیند تر څنګ واقع دی. د نومورې د معلوماتو له مخې په هغه ساحه کې چې پل پیژندل شوی کابو شل پیړۍ مخکې په هغه وخت کې چې یونان باختري اوسیدونکو هلته بنار ګوټی درلوده دغه پل یې د وریښمنو د وړلو راوړلو لپاره جوړ کړی و چې ننی عراق یې له تخارستان سره نښلولو، دغه پل دوه پایې لري چې له ګچ څخه په استفاده په ځانګړی پوهه سره سنګ کاري شوی دی.

د پاسه پرې پخی خښتی د ۲۵ سانتئ مترو په اندازه لګیدلی دی دغه داړی ستنی ۸ متره لیری والی لري د وخت په تیریدو سره پل له منحه تللی خو یوازې دواړه ستنی یې پاتی شوی دی.

د محمد بصیر بدروز د وینا له مخې کیدای شي چې دغه پل ۸۰ متره اوږدوالی او ۸ متره سور ولري ځکه چې د سیند سور همدومره دی.

تر اوسه پورې په بغلان کې د لرغون پیژندنی ۱۲ ساحی کشف شوی دی چې دری یې د ملګرو ملتونو فرهنګي سازمان ته پیشنهاد شوی دی.

## بیا جوړونه له شفافیت سره د بري نښه

د موقتی اداری له جوړولو څخه وروسته تر دې دمه پورې د تمویل هیوادونو له خوا د هیواد د بیا جوړولو په برخه کې زیاتی مرستی شوی دی خو لکه څنګه چې باید حسابونه یې شفاف اوس هغسی اجراات سرته نه دی رسیدلي د خلکو په اند چې پدې مرستو کې ددی امکانات ډیر زیات دی چې ډیری به د مسوولینو په جیب کې لویدلی وي.

یوازې په تیرو دریو کلونو کې د ۲۴ تمویل کوونکو له خوا څه د پاسه یو میلیارد ډالره د بیا جوړولو له وجهی صندوق سره چې د نړیوال بانك له خوا اداره کیږي مرسته شوی ویل شوی دی چې له دغو پیسو څخه د مامورینو په معاشونو او دځینو انکشافي پروژو په جوړولو کې کار اخیستل کیږي.

د نړیوال بانك د مطبوعاتو په وینا کې ویل شوی و چې له دغه صندوق سره تر اوسه پوري څه د پاسه یو ۶۰۰ میلیونه ډالر ورکړل شوی دی او په ۱۳۸۴ کال به ۷۵ میلیونه ډالره په انکشافي پروژو کې او ۲۸۰ میلیونه ډالر به په عادي بودجوي څانګو کې په کار ولګیږي.

په نوموړي وینا کې زیاته شوی ده چې په اوس وخت کې د افغانستان د بیا جوړولو وجهې صندوق ۱۲ انکشافي پروژې تر کار لاندې نیولی چې په هغو کې مالي اداره، کوچنی پورونه، ښوونه او روزنه، بریښنا، د اوبو برابرول، د صحت ساتنه مخابرات او سرکونه شامل دي.

له دغه صندوق سره له مرستو څخه ۱۸۳ میلیونه ډالره چې ژمنه شوی وه تر اوسه پورې ۹۴ میلیونه ډالره ورکړل شوی دی دغه راز له دغه صندوق سره له مرستو شوو پیسو څخه تر اوسه پورې ۵۴۴ میلیونه امریکایي ډالره ۲۴۰ زرو ملکي کارکوونکو د معاشونو د ورکړې لپاره جلا شوی دی چې اکثره یې د ښوونې او روزنې او صحت په برخه کې دندې لري.

خو سره له دې لاتر اوسه پورې په ډیرو اداړو او څانګو کې او په تیره بیا په ولایاتو کې ملکي مامورینو ته په تاکل وخت معاش نه ورکول کیږي او د معاشونو د اجراء په وخت کې ځیدخل مامورین د اجراء کولو په خاطر د پیسو د اخیستلو لپاره سترګې نیسی که داسې مرستی هر څومره زیاتی شي نو خامخا هغه سیند وچیږي چې زیاتی ویالی تر پورته کیږي ځکه خو لازمه ده چې د دولت اړوندې څانګې باید معاشونو او پروژو لپاره جلا شوی پیسی په شفاف ډول ولګوي او له لګښت کوونکو سره د هر ډالر شفاف حساب تر لاسه شي او کلکه څارنه یې وشي چې لګول شوي پیسې ایا واقعاً په سمه او صحیح توګه کاریدلی دی او که هغوی د جیبونو برخه شوی ده که چیرې مور په داسې کنترول کې بریالی راووځو ویلای شو چې مرسته به په ځای لګیدلی وي او یو ګام به مخ په وړاندې په حرکت کې یو.

# راضی ها و ناراضی ها ...

نشانه های انتخاباتی، باید به مردم بی سواد کمک کند تا نامزد مورد نظرشان را تشخیص دهند. به نظر برخی از نامزها، این نشانه ها علاوه بر اینکه نشان انتخاباتی است، تاثیرات روانی مثبت یا منفی نیز می توانند بر انتخاب کنندگان داشته باشند.

نامزدها در روزهای ثبت نام در انتخاب نشان انتخاباتی شان کاملا دست باز نداشتند.

هر نامزد وقتی برای ثبت نام به یکی از دفاتر کمیسیون انتخابات مراجعه می کرد، از میان نشانهای انتخاباتی از قبل آماد شده، به رسم قرعه سه نشان انتخاب می شد و او از میان سه نشان حق گزینش یکی را داشت. شاید در روز ثبت نام کمتر کسی متوجه تاثیر این نشان ها بود، اما اکنون که چند روز از آغاز مبارزات انتخاباتی گذشته است، بسیاری از نامزدها در مورد این نشانها و سمبولها سخن می گویند.

مثلا برخی از نامزدها می گویند که نشان انتخاباتی آنها، چیزی است که مردم آن را جدی نمی گیرند.

یک زن نامزد انتخابات در ولایت خوست به یکی از روزنامه های چاپ کابل گفته است که نشان انتخاباتی او موزه است و مردم این نشان را تمسخر می کنند.

زن دیگری از نامزدهای ولایت کابل که نشان انتخاباتی اش گهواره است، می گوید که او از این سمبول بسیار راضی است. "من یک مادرم و گهواره را دوست دارم این نشان به من کمک خواهد کرد تا بسیاری از مادران به من رای دهند."

این خانم همچنین می گوید که برخی از مردم افغانستان به طور سنتی باور دارند که انداختن چیزی در گهواری برکت دارد.

یکی از نامزدهای انتخابات پارلمانی در ولایت بلخ با استفاده از این که نشان انتخاباتی اش چراغ است در پای پوسترهای تبلیغاتی اش چنین نوشته است: "برایتان چراغ آورده ام، امیدوارم در تاریکی وهم انگیز شب با حمایت و رای تان مسیر پرخم و پیچ سحر گاهی را روشن نگه دارید تا از سنگلاخ های پر خطر با سرافرازی عبور کنیم."

نامزد دیگری که نشان انتخاباتی اش شیشه آب است، زیر نشان انتخاتی اش نوشته است "آب منبع حیات".

نامزد دیگری می گوید: "نشان انتخاباتی من گاو است، نمیدانم زیر این نشان چه بنویسم!"

در برخی موارد دیده شده است که نامزدها در رقابت ها و مبارزات انتخاباتی، به طور غیر مستقیم از نشان انتخاباتی نامزد حریف استفاده کرده اند. به گونه نمونه یکی از نامزدها در مورد نامزد دیگری که نشان انتخاباتی اشت بوجی است، گفته است: "او از هم اکنون دهان بوجی را برای ثروت اندوزی در پارلمان، باز کرده است." بعضی از نشانها بسیار مشابه است، مثلا ابر و ابر در حال باریدن، دو نشان انتخاباتی جداگانه است که یافتن تفاوت آن برای رای دهندگان با توجه به اینکه این نشانه ها در گوشه ای از برگه رای دهی به اندازی کوچکی جای می گیرند، بسیار دشوار است.

مشکل دیگر هم این است که بسیاری از نشانه ها تکراری است. مثلا نشان انتخاباتی نامزدی یک چراغ است و از نامزد دیگر دو چراغ، در حالیکه تفاوتی میان شکل چراغها نیست.

# اسلام اباد د افغان ...

نومورې زیاته کړه: «د تېرو دوو ورځو راپدېخوا په دغو منډیو کې د افغان کډوالو کوچني دکانونه او ریږې له منځه وړل شوي او د منډیو په دوارو دروازو کې پولیس او د ښاروالۍ کسان ولاړ دي چې له شناختي کارډ پرته څوک نه پرېږدي»

پرویز احمد وویل «مور ږغورو چې باید افغانان په دې خبره پوه شي چې پاکستان حکومت له دوی سره توکې نه کوي، او د سپتمبر د ۱۵مې د رارسېدلو تر مخه به ددوی پر خلاف نور عملیات تر سره کړو او دوی باید په درناوي سره خپل هېواد ته ستانه شي»

د افغان سفارت یو تن چارواکي حمیدالله په دې اړه چې افغانانو باندې کاروبار بند شوی پژواک ته ویلي چې د کډوالو د اتشي مشر انجنیر عمرزاده د کډوالو مشکلاتو ته د حل موندلو لپاره کابل ته تللی دی.

حمیدالله ویلي: «د کډوالو د اتشي مشر به د کډوالو په اړه د پاکستان د حکومت درېځ افغان چارواکو ته بیان کړي اوله راستنېدو سره به سم خپل فعالیت پیل کړي.»

د اسلام آباد په سبزي منډوي کې د عباسي برادرزاده په نوم یو کمپښنکار همایون عباسي وویل چې د ښاروالۍ کسانو ورته ویلي دي چې د افغان کډوالو د وېستلو تر میعاده ټول افغان کډوال له خپل کاروبار څخه ببل کړي. همایون عباسي زیاته کړه: «د ښاروالۍ کسان او پولیس په ټولو کمپښنکارانو ګرځي او د افغان کډوالو په اړه ترینه معلومات اخلي. اودم ګړی هیڅ یو افغان کډوال نشي کولی چې په منډوي کې څه روزګار وکړي.»د افغان کډوالو د پنډغالي یو استوګن عبدالرشید چې په سبزي منډوي کې یې کوچنی دکان درلود وویل چې دزمری په۲۳مه یې د ښاروالۍ کسانو دکان ورته وران کړ او ټول شیان یې ګاډي کې واچول. عبدالرشید چې ډېر خواشینی ښکار ېده وویل: «د اسلام آباد په سبزي منډوي کې زیات شمېر افغان کډوال کاروکاوه او ددوی پر روزګار له بندیز سره به د دوی ژوند له زیاتو اندېښنو سره مخ شي.»یو بل افغان کډوال، معین باري وویل چې په پشاور مور کې یې د ښځینه وو د ضروري شیانو ربړه لګولې وه د ښاروالۍ لخوا ورته ورانه شوه.

باري وویل: «اوس د پاکستان په ټولو منډوي ګانو کې افغان کډوالو باندې بندیز لګول شوی او خصوصا په هغه کسانو باندې چې د کرایې وس نلري او په وړو ځایونو کې یې ربړې درولی دي.»

# یک تن، بعد از...

پاسوال خان محمد قوماندان امنیه ولایت لوگر علت این قتل را اختلافات خانواده گی خواند.

به گفته وی، این کار بعد از ان صورت گرفته که مقتول بر خلاف خواست قاتل، دختر خود را به نکاح فرزند او نداد.

مقتول ۵۰ ساله دریکی از مکاتب ولسوالی برکی برک به حیث معلم ایفای وظیفه مینمود.

خان محمد، اضافه نمود که قاتل چندین بار به برادر خود هشدار داده بود که در صورت قبول نه کردن خوا ستش کشته خواهد شد.

داد محمد راسا مسؤول دفتر مطبوعاتی وزارت داخله باتایید این قضیه افزود که قاتل حالا بایکتن از شر کای جرمی اش در قو ماندانی امنیه ولایت لوگر تحت نظارت اند.

# این رنگ پاک...

او همچنین از مردم خواست با به عملکرد این کمیسیون اعتماد کنند.

مشکل پاک شدن رنگ مخصوص رای دهی در برخی از حوزه ها، از مسایل عمده در انتخابات ریاست جمهوری افغانستان در سال گذشته بود که باعث شد برخی از نامزدها، مشروعیت انتخابات را زیر سئوال ببرند. آقای اتوود گفت آنها تلاش می کنند از بروز چنین مشکلی در انتخابات پارلمانی افغانستان جلوگیری شود.

او گفت: "این موضوع که رنگ نشانی انگشت بزودی پاک نشود یکی از اساسی ترین تدابیر ما است که تضمین می کند یک فرد تنها یک بار رای داده است. به خاطر نگرانی های سال گذشته، امسال ما خیلی جدی کار می کنیم تا متیقن شویم رنگ ها جعلی نیست."

او تاکید کرد: "ما روش سختگیرانه ای را در سراسر افغانستان در این زمینه به کار خواهیم برد."

ریچارد اتوود گفت که آزمایش های گسترده به منظور تثبیت نوع این رنگ ها انجام شده است و آنها اطمینان دارند که این رنگ بزودی از انگشت رای دهندگان پاک نخواهد شد.

او افزود که صد و شصت هزار نفر در سراسر افغانستان آموزش های ویژه می بینند تا در مراکز و محلات رای دهی انگشت رای دهندگان را با رنگ نشانی کنند.

بر اساس کمیسیون مشترک تنظیم انتخابات، ۱۲ و نیم میلیون رای دهنده در انتخابات پارلمانی اشتراک خواهند کرد.

هر رای دهنده دو برگه رای دهی دریافت خواهد کرد، که یکی مخصوص نامزدهای انتخابات پارلمانی و دیگری مربوط به نامزدهای شوراهای ولایتی است.

حدود چهل میلیون برگه رای دهی چاپ شده که به گفته مسئولان، ۶۴ درصد بیشتر از اوراق رای دهی در انتخابات ریاست جمهوری است.

شمار ورق های چاپ شده بیشتر از شمار افراد رای دهنده در انتخابات است و مسئولان در این زمینه می گویند که شماری از این ورق های به منظور جلوگیری از کمبود ورق در حالات غیر مترقبه نگهداری خواهد شد.

تمامی ورق های رای دهی دارای شماره مسلسل (سریال) است و مسئولان کمیسیون مشترک انتخابات باور دارند که این کار مانع بروز تخطی در جریان انتخابات خواهد.

# رییس تعیین شده به...

داکتر نورالحق حکیمی بعد از آن دستگیر شد که مسؤولین ولایت بغلان با ریاست جمهوری در کابل در تماس شده و آنها از این موضوع اظهار بی اطلاعی کردند. جمعه خان همدرد والی بغلان به آژانس خبری پژواک گفته است: «با آنکه داکتر حکیمی را بعد از حمل مکتوب از مرکز، به حیث رییس جدید صحت به منسوبین ریاست صحت معرفی کردیم اما اسناد وی تحت اشتباه بود و بعد در تماس با ریاست جمهوری و اداره امور و وزارت صحت، ثابت شد که مکاتیب مقرری حکیمی با امضای حامد کرزی جعل است و ما حکم گرفتاری او را دادیم.»

با این حال، استاد خُرم دل رییس اداری ولایت بغلان میگوید: «بعد از برقراری تماس ها با مرکز تثبیت گردید که شماره مکتوب حکیمی که دران امضای رییس جمهور درج شده بود، مربوط جلوگیری از قاچاق چوب ارچه ولایت میدان وردک بود، نه تقرری وی به حیث رییس جدید صحت بغلان.»

اما نورالحق حکیمی که بعد از سقوط طالبان به حیث رییس صحت بغلان تا ماه حمل سال جاری ایفای وظیفه می کرد و بعداً بر کنار شد، از جعل بودن اسناد خود ابراز بی اطلاعی نموده میگوید که اسناد را یکی از دوستانش در وزارت صحت برایش تهیه نموده بود و وی از جعل بودن آن، آگاهی نداشت.

حکیمی که در توقیف پولیس به سر میبرد به آژانس پژواک گفته است: «بعداز آنکه از روساء امتحان گرفته شد و من ناکام شدم درخواست دفاع از خود را به کمیسیون سمع شکایات اداره امور در کابل سپردم و بعد از آن به یکی از دوستان خود بنام داکتر عتیق کارمند وزارت صحت وظیفه دادم که آنرا تعقیب نماید تا آنکه وی اسناد را طی مراحل کرده و بمن داد، اما نمی دانستم که این اسناد ساختگی بود.» برید جنرال سید افندی مدیر جنایی قوماندانی امنیه بغلان میگوید که حکیمی بر اساس دستور والی توقیف گردیده و قرار است که به څارنوالی معرفی شود. وی افزود که قرار است هیئت وزارت صحت عامه از کابل به زودی وارد بغلان شود و در مورد قضیه و تقرری رییس جدید ریاست صحت فیصله نماید.

به گفته رییس اداری ولایت بغلان، داکتر محمد یوسف فایض، رییس صحت عامه برحال بود که حکیمی با اسناد ساختگی دست داشته و امضای رییس جمهور وارد بغلان شده و آنها بدون آنکه در اوایل بدانند که این مکتوب جعلی است، او را دو روز قبل به حیث رییس صحت به کارمندان این ریاست معرفی نموده بودند.

وی نمبر مکتوب را شماره ۳۰ تاریخ بیست سرطان سال جاری و تاریخ تصویب آنرا شماره ۳۱۱ ماه جوزای سال جاری خواند.

قبلاً به تاریخ ۲۹ جدی ۱۳۸۳ نیز یک تن به اسم حیات الله که با استفاده از امضای جعلی حامد کرزی میخواست در مربوطات وزارت معارف مقرر شود بالفعل دستگیر گردیده بود.

# بیا هم دعلم دښمنانو خپله ...

زمونږ خلك او دولت بايد ددښمن په حيله او تيرايستونكو اعلاتو باندې ونه غوليږي او يو خل بيا دهغوی په پرونيو او تنتيو اعمالو باندې چې همدا اوس يې دزياتولو لپاره ملاتړ لې ده نظر واچوي خلك بايد دترقي ضد ددغو ښمنانو پرونيو او اوسنيو اعمالو، كړنو او پلمو ته په نظر اچولو سره په هر خاى او هره شيبه كې ددولت ملاتړ اوسي او دهغوی په وړاندې يو غږ او يو لاس شي

# په غزني کې د موټر...

دغزني دامنيه قوماندانۍ دامنيت امر عبدالوکيل کامياب پژواک خبري اژانس ته ويلي: «د دې لپاره چې دکاندید انولله لوري تاکنيزې سيالۍ اودتاکنو ټول بهير په ښه توګه ترسره شي، نوسر له نن څخه په ټول غزني کې دموټرسايکلو چلول بند دي.»

خوخلک دانيوکه کوي چې تاکنو ته لازيات وخت په مخ کې دی اوپه موټرسايکل چلولو بندیزبه دخلکو ترانسپورتي ستونزې زياتې کړي.

محمديعقوب چې هره ورځ ترښاره پورې په موټرسايکل اته کلیومتره لاره وهي وايي: «دموټرسايکلوبندول هسې يوه بهانه ده، تاکنوته زياتې ورځې پاتې دي.»له دې پرې مودې راهيسې په غزني کې په موټرسايکل باندې له يوه نه د زياتو کسانو سپرېدل د امنيتي اندېښنو له لامله بند شوي وو، او همدارنګه تېر کال د ولسمشرۍ د ټولټاکنو د خوندي ترسره کېدولپاره، د تاکنو ترپيل يوه اوونۍ وړاندې په موټرسايکل ګرځيدل بند شوی وو.

دیادونې وړه چې نړۍ شل ورځې وړاندې دغزني دانده وپه ولسوالۍ کې، دشکمنو موټرسايکل سپرو طالبانوله لوري، په يوه کلينيک برید وشو اودنومورې کلينيک ډاکټر يې ووژاه.

# انفجار از یکین های...

به گفته وحید، شفا خانه ولایتی کاپیسا از لحاظ داشتن متخصصین و سا مان الات فنی مشکلات دارد و مجروحینی را که سوختگی عمیق داشته باشند، بعد ازتداوی ابتدایی به شفا خانهٔ ایمرجنسي پنجشیر معرفی می نماید.

سیماگل دختر ده ساله که قسمت چپ بدنش سوخته و در شفاخانه متذکره بستر است، می گوید: «دریک عروسی بود م زنی میخواست چراغ را روشن کندکه نا گهان الکین انفجارکرد و من سوختم.»یک خانم دیگری که ازگرفتن نام خود خوداری نمود در شفاخانه یاد شده گفت: «مسؤولین ولایت ما در حالی که خوب می دانندکه چنین واقعات همه روزه صورت می گیرد، بی تفاوت اند و کدام اقدامی نمی کنند.»

اما عبدالحمید حمیدی مسؤول قوماندانی امنیه آن ولایت در زمینه می گوید که از طریق رادیو صدای صلح وهفته نامه کاپیسا ازهمه مردم خواسته است که ازتیل فروشی های روی بازار تیل خریداری نکنند.

وی علاوه کرد که تا کنون چندین تیل فروشی را به دلیل فروش تیل های آلوده، بسته نموده و تحقیقا ت در مورد جریا ن دارد.

# دو تن به اعدام ...

محکمه ابتدائیه ناحیه نهم شهر کابل، سلاخان و محمدجمعه باشنده گان ولسوالی الیشنگ ولایت لغمان را طی یک محاکمه علنی به قتل عبدالحبیب باشندهٔ ولایت نیمروز متهم نمودند.

څارنوال عبدالحبیب یوسفزی، مسؤول بخش تحقیق څارنوالی ولایت کابل در مورد اتهامات شواهد و اسناد را پیشکش نمود و از محاکمه مربوطه خواهان جزاء به آنها گردید.

قرار ادعای یوسفزی، این دو تن به تاریخ ۱۱ قوس سال گذشته موتر کرولای عبدالحبیب را از کندهار به کابل دربست گرفته بودند. آنها در ساحه ولایت غزنی، گردن عبدالحبیب را به ضرب چاقو قطع نموده و بعداً جسد وی را کنار سرک انداخته بودند.

قرار اظهارات موصوف، این جسد بعد از یک شب توسط پولیس ولایت غزنی بدست آمده و به شفاخانه ملکی انتقال داده شد.

څارنوال موظف همچنان گفت که متهمین حین تحقیقات شان شواهدی را حاضر نکردند تا بی گناهی آنها را ثابت سازد.

قرار معلومات قاضی مزمل مجیدی رئیس محکمه ابتدائیه ناحیه نهم شهر کابل، این اشخاص متهم دو روز بعد از این قضیه حین گزمه پولیس در مربوطات ولسوالی الیشنگ ولایت لغمان در موتر مقتول عبدالحبیب دستگیر شده و بعداً آنها به کابل انتقال داده شدند.

محمدشریف قوماندان امنیه ولسوالی مذکور، در این محاکمه علنی شاهدی ادا نمود که لباس های اشخاص دستگیر شده هنگام دستگیری خون آلوده بوده و اسناد موتر را نیز با خود نداشتند.

اما متهمین این موتر و موبایلی را که در موتر مانده بود، ازان خود میدانند. آنها گفتند که این موتر را در هرات به مبلغ ۲۳۵۰۰۰ کلدار پاکستانی خریده اند.

آنها فیصله محاکمه را نادرست خواندند، اما در جواب به این سوال که چرا اسناد موتر را با خود ندارند؟ گفتند که موتر را بدون اسناد خریده اند. اما احمدشاه، خسربره عبدالحبیب مقتول مدارک خرید موتر، جواز سیر و هم اسناد موبایل را به قاضی و څارنوال نشان داد. عبدالرؤف، پدر عبدالحبیب مقتول، شریفه خانم وی و دختران کوچک او (لیمه، نازو، یاسمین و یک پسر کوچک وی محمد نسیم) در حالیکه اشک میریختند اعدام قاتلان را از قاضی تقاضا نمودند.

ERADA Daily

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan( Mobil phone :070224787)
Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
eradadaily@hotmail.com

ارداده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیرنظرهیات تحریرانتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب دیدار

ارداده
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان

قیمت یک شماره ۳ افغانی